د افغانستان اسلامي امارت

د اوبو او انرژي وزارت

د دفتر لوی ریاست

د اوبو او انرژي سکتور کې د پانګونې جلب او جذب ریاست

د پانګونې چارو د اسانتیاوو آمریت

ګڼه: ۱۸۳ / ۵۱ نېټه: ۱۴۴۷/۰۳/۲۹

بسم الله الرحمن الرحیم

**د ا.ا.ا ریاست الوزراء اقتصادي محترم معاونیت ته ؛**

**اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَکَاتُه:**

**موضوع : د پنجشیر څخه کابل ته د څښاک اوبو لېږد پروژې اړوند د پانګوالو لېوالتیا.**

د پنجشیر څخه کابل ته د څښاک اوبو د لېږد پروژه د هېواد له لویو ملي او عام‌المنفعه پروژو څخه شمېرل کېږي چې د دې وزارت د کاري لومړیتوبونو څخه ګڼل کېږي، د دغې پروژې اساسي موخه د کابل ښار لپاره د څښاک د اوبو تأمین/برابرول دي. ذکر شوې پروژه په ټولیز ډول شاوخوا (۱۲۰،۴۸) کیلومتره اوږدوالی لري چې د پنجشیر ولایت د بازارک ولسوالی له دو آب سیمې څخه پیل او د کابل ولایت تر تنګي تره خېل پورې غځېږي. د دې پروژې پایپ‌لاین په هره ثانیه کې (۲) متر مکعب اوبو د لېږد وړتیا لري.

د دې حیاتي پروژې په تړاو، بېلابېلو شرکتونو د پانګونې لېوالتیا څرګنده کړې ده، چې لنډیز یې په لاندې ډول ستاسو حضور ته وړاندې کېږي:

**۱.** د امیر سنګان پارسیان بابکرخېل شرکت د ایران هېواد کمپنی، سابیر (عامه سهامي) بندونو او اوبو لګونې تأسیساتو ودانیز شرکت سره په رسمي بڼه مشارکت لري، په ذکر شوې پروژې باندې د معدن په بدل کې د پانګونې لېوالتیا څرګنده کړې ده. نوموړی ایرانی شرکت په خپل پروفایل کې مشابه تجربه او وړتیاوې لري، د پورته ذکر شوې پروژې د مالي تمویل او د ټولو مرحلو د عملي اجراء او تطبیق مسئولیت پر غاړه لري. همدارنګه د امیر سنګان پارسیان بابکرخېل شرکت د ټولو اداري او حقوقي چارو د تعقیب او ترسره کولو او د معدن د استخراج پورې اړوند ټولو فعالیتونو د اجراء مسئولیت په غاړه لري.

**۲.** آی‌پي کولګوسکین پیوټر الکساندر ویچ د روسیې هېواد کمپنی د خپلو بهرنیو شریکانو پر مټ چې په افغانستان کې یې رسمي استازی د ګراونډ بیلدر شرکت معرفي کړی او د یادې پروژې په تړاو د پانګونې لېوالتیا څرګنده کړې. نوموړې کمپنی او شریکان یې تر دې وړاندې په تاجکستان کې د فاضله اوبو د تصفیې او د څښاک د اوبو د تأمین ګڼې پروژې پلي کړي دي. دغې کمپنی خپله طرحه داسې وړاندې کړې، چې کلنی شاوخوا ۸۰۰ زره ټنه نفت (تیل) افغانستان ته وارد کړي. او وړاندیز یې دادی چې د وارداتو اړوند مالي عواید دې په ځانګړي صندوق کې راټول شي. تر څو وروسته د پورته ذکر شوې پروژې د تمویل او عملي پرمختګ لپاره ترې استفاده وشي. ترڅنګ یې د کان په بدل کې هم د پروژې د تطبیق آماده ګي ښودلې ده.

**۳.** عبدالله هشام د برېښنا تولید او اوبو رسونې شرکت د ایران هېواد د صنعت کوبش شرکت په همکارۍ، د یادې پروژې په تړاو د پانګونې غوښتنه یې وړاندې کړې. دغه شرکت اراده لري چې د پنجشیر څخه کابل ته د څښاک او لېږد پروژې چارې د بهرني شریک په همکارۍ په مشارکتي (Joint Venture) بڼه د معادن د امتیاز په بدل کې پر مخ یوسي.

Tel: ۰۲۰۲۵۲۲۴۷۲ Web: www.mew.gov.af Email: chiefofstaff.mew.۱۴۴۳@gmail.com Fb: www.facebook.com/MEW.af Twitter: twitter.com/MEW_afghan

# د افغانستان اسلامي امارت

## د اوبو او انرژي وزارت

## د دفتر لوی ریاست

### د اوبو او انرژي سکتور کې د پانګونې جلب او جذب ریاست

### د پانګونې چارو د اسانتیاوو آمریت

ګڼه: ................ نېټه: / ۱۴۴۷/۰۳

**۴.** د ودان کټواز سوداګریز او د ټولو کانونو استخراج شرکت هم د خپلو بهرنیو شریکانو په همکارۍ، د ذکر شوې پروژې په موخه د پانګونې لېوالتیا څرګنده کړې ده.

**۵.** د تویار صنعتي خصوصي شرکت د خپلو بهرنیو شریکانو په مرستې په ذکر شوې پروژې کې د کان په بدل کې د پانګونې لېوالتیا لري.

**۶.** د حافظ ودانیز او سړک جوړونې شرکت په ذکر شوې پروژې کې د پانګونې لېوالتیا د کان امتیاز په بدل کې څرګنده کړې، نوموړی شرکت د خپلو بهرنیو همکارانو په مرسته غواړي د ذکر شوې پروژې چارې پرمخ یوسي.

**۷.** انټرا ګلوبل مېټل ایسټ کانټرکشن د اوکراین هېواد کمپنۍ، خپله د پانګونې لېوالتیا هم د پنجشیر څخه کابل ته د اوبو انتقال پروژې کې څرګنده کړې.

د یادونې وړ ده چې د پنجشیر ـ کابل د اوبو لېږد پروژه د هېواد له مهمو او حیاتي اقتصادي پروژو څخه ګڼل کېږي. یاده پروژه به د اوږدې مودې لپاره د کابل ښار د څښاک اوبو اړتیاوې پوره کړي او له همدې امله به د امارت او خصوصي سکتور لپاره د پام وړ عواید هم رامنځته کړي. د یادې پروژې د تطبیق په تړاو، د دې وزارت نظریات په لاندې ډول وړاندې کېږي:

**۱.** د یادې پروژې ډیزاین دې د وزارت له لوري د یوې معتبرې کمپنۍ له خوا ترسره شي تر څو د پروژې واقعي قیمت ترلاسه شي، د حکومت بودیجه به هم ضایع نه شي او بعدي ساختماني چارې به یې د رقابت له لارې یو وړ شرکت ته ورکړل شي.

**۲.** د ذکر شوې پروژې چارې دې د تعرفې په بدل کې پانګوالو ته ورکړل شي، دا به هم حکومت او هم پانګوالو ته اقتصادي ګټې ولري.

**۳.** که شرکتونو د تعرفې په مقابل کې لېوالتیا نه درلوده، نو بدیلې مناسبې طرحې دې وارزول شي او د معدن بحث کې بهتره به وي چې د اوصولو په رڼا کې رقابت ترسره شي.

له همدې امله، د بېلابېلو شرکتونو د پانګونې لېوالتیا، د پانګونې موډلونه او نور اسنادو کاپي د یو حلقه CD په ذریعه له لیک سره مل اقتصادي محترم معاونیت حضور ته وړاندې کوو په اړه یې څنګه چې لازمه ګڼئ حکم به ورکړئ. **والسلام**

**الحاج ملا عبداللطیف منصور**

**د اوبو او انرژي وزارت وزیر**

قید وارده: ۱۴۲۳
۱۴۴۷/۳/۲

Tel: ۰۲۰۲۵۲۲۴۷۲ Web: www.mew.gov.af Email: chiefofstaff.mew.۱٤٤۳@gmail.com Fb: www.facebook.com/MEW.af Twitter: twitter.com/MEW_afghan